# په مزاحمتي کاکړۍ غاړو کښې د پېرنګي ضد پښتنو مبارزينو انځور

## Image Of Pashtoon Freedom Fighters Depicted In Epical Kakarai Ghari

Hafeez Ur Rehman Dauran[1]
Phone # 03003819934
E-mail: urrehmanhafeez953@gmail.com
Dr. Abdul Rehman Kakar[2]
Phone # 03327939095
E-mail: rehmankakaruob@gmail.com

Issn 2304-1463

**Abstract:**

**Southern Pashtoon Khwa also known as Balochistan, is one of centers of Pashto literature. Particularly, the then Kakar Khurasan regions which are rich in Pashto folklore. Keeping in view the historical and political background of the region; it had also witnessed British rule till partition of sub-continent. This paper focuses on the resistance against British imperialism in the Southern Pashtoon Khwa which has been reflected in Pashto folklore; specially, in Kakarai Ghari, one of the prominent and well-known genres of the Pashto folklore. This paper discusses the true image and attribution paid to the freedom fighters of Southern Pashtoon Khwa who had continued resistance against the then British invasion.**

اولسي ادب هغه اساسي هينداره ده چې د قامونو سياسي، کلتوري، تهذيبي، سماجي، مذهبي او روحاني شتمنۍ په کښې خوندي وي. د يوه قام د تاريخ غوره سرچينه فولکلور وي. ژبه چې څومره مځغن فولکلور لري، هغومره به هغه ژبه خوندي وي.

پښتو ژبه د ژبو له هغه ډلې څخه ګڼلای شو، کومې چې د فولکلور شتمني لري. د پښتنو جغرافيائي موقعيت له سوبه د پښتو ژبې فولکلوري پانګه پراخه ده. ځکه د فولکلور ځيني اصناف داسي دي چې تر اوسه پوري د يوې ځانګړې جغرافيې په اولس کښې زيات مقبوليت لري. لکه ټپه، کاکړۍ غاړي، د مروتو کسرونه او داسي نور. دغه ډول فولکلوري اصناف په لر ه او بره پښتونخوا کښې پېژندګلوي لري، اوربدل کيږي او ځای په ځای اوئيل کيږي. خو له کومي سيمي چې راټوکېدلي وي، په هغه سيمو کښې نن هم تر نورو ځايونو زيات وئيل کيږي او وده هم زياته په دغه سيمو کښې کوي.

---

[1] Mphil Scholar Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

[2] Lecturer, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

په فولکلوري اصنافو کښې یو په زړه پوري صنف کاکړۍ غاړي دي، چې په سهېلي پښتونخوا او په ځانګړې توګه د سلېمان د غره شاوخوا سیمو کښې راپورته شوي او له هم دې ځایه خورې شوي دي. د سهېلي پښتونخوا په پښتني قبیلو کښې د جغرافیې او شمېر په لحاظ تر ټولو لویه قبیله د کاکړو ده. د کاکړو شمېر په سهېلي پښتونخوا کښې ډېر دی، په هره اولسوالۍ / ضلع کښې ډېر دي، خو د کوه سلېمان په شاوخوا سیمو کښې نورې ټولې قبیلې د دوی د ابادۍ په نسبت ډېر لږ دي. په دې سیمو کښې د یوې سیمې نوم نن هم کاکړ خراسان دی. د مځکې او شمېر د زیاتوالي له کبله د دوی فولکلوري پانګه هم درنه ده. په دې فولکلوري پانګه کښې تر ټولو مشهوره فولکلوري صنف کاکړۍ غاړي دي.

کاکړۍ غاړي فی البدیع وئیل کیږي، چې د دې قام شاعرانه طبیعت په ګوته کوي. خو په اوسني پېر کښې ځیني داسي کاکړۍ غاړې د شاعرانو له خوا په شعوري توګه د جوړېدلو هڅې هم شوي دي. دا ډول غاړې زیاتره سیاسي بڼه لري او د ځانګړو مقاصدو دپاره جوړې شوي وي. په جوړو کړل شوو غاړو کښې مصنوعیت له ورایه ښکاري.

د پښتنو دغه سیمه چې سوهېلي پښتونخوا ورته وئیل کیږي، له بهرنیو یرغلونو سره مخ شوې چې ځیني یې د تاریخ په پاڼو کښې خوندي دي. په دې یرغلونو کښې تر ټولو په پای کښې کوم یرغل او په زور حکومت پر سهېلي پښتونخوا شوی دی هغه د پېرنګیانو له خوا شوی دی. د دوی د واکمنۍ په دوره کښې اولس د دوی په ضد ډېرې هلې ځلې کړي دي. د اولس مبارزه په کاکړۍ غاړو او نورو فولکلوري اصنافو کښې ترسترګو کیږي.

هره کاکړۍ غاړه څه نا څه شالیدلري، اؤ پر یو خاص موقع وئیل شوې وي. د پېرنګي د دورې ډېر وخت نه کیږي ځکه یې ډېرې داسي پیښې شته چې نن هم په اولس کښې زیاتره خلګ په خبر دي؛ د خپلو سپین ږیرو له خولې یې اورېدلي دي.

سیال کاکړ په دې هکله داسي وايي:

"د لویي پښتونخوا په دې سهېلي برخه کي پښتانه همېشه، اورنګ ؤ که پرنګ، د خپلو دښمنانو سره په جنګ اخته سوي دي.د دغو ملي مبارزو ماخذ زموږ په سیمه کي کاکړۍ کېدلای سي. منور پښتانه د کاکړیو په وسیله یو لږ په زړه پوري معلومات لاس ته راوړلای سي" (۱)

په دې مقاله کښې موږ دا هڅه کړې ده چې په کاکړۍ غاړو کښې د پېرنګي سامراج په ضد د دې اولس مبارزې و څېړو او د پېرنګې د توري دورې هغه ناوړه کړنې چې له دې اولس سره یې کړې دي، په ګوته کړو.

په پښتنو کښې ډېر داسي غازیان او شهیدان تېرشوي دي چې د پېرنګي خلاف یې مبارزې کړي دي. په سهېلي پښتونخوا کښې هم پېرنګي پرغلونه کړي او دا سیمه یې په جبر تر خپلي واکمنۍ لاندي ساتلې ده؛ د سیمي اتلانو او غازیانو د دغه ناروا واکمنۍ په ضد مبارزې کړي دی. تر سر او مال تېر شوي دي. نر او ښځې د پېرنګي تر وتلو خپله مبارزه توده ساتلې. ښځې که په عملي جنګ کښې وړه په وړه نه دي پاته شوي خو د فولکلور کومه پانګه چې په لاس کښې لرو، د دې زیاته برخه زموږ د هغه خویندو او مندو چې له خپل اولس او وطن سره مینه درلوده، هره ناروا پېښه یې د کاکړۍ غاړو په بڼه کښې موږ له خوندي کړې ده. زموږ د وطن دغه خویندې که څه هم زیاتره نالوستې وې خو بیا هم له خپلې خاوري سره یې مینه ښکاره کړې او خپل حق یې پوره پوره ادا کړئ دی.

"دي په کښې د مړو څلي ږوب د ځکه دنیا لولي " (۲)

په دې غاړه کښې د کوه سلېمان و د یوه تاریخي ښار یادونه شوې ده، چې دلته په ژوب کښې د پښتنو د دښمنانو په ضد د دې خاوري د ساتلو ډېري مبارزې شوي دي. په دې لار کښې سرونه ښندلي خو د وطن ساتني له هوډ او ناموس څخه نه دي تېر شوي.

د دې سیمي ننګیالي او باتوره ځوانانو د شاو خوا پښتنو سره هم درېدلي او د پښتني سیمي د ساتلو دپاره یې سرونه ښندلي دي. کاکړ چې د دې سیمي یوه لویه قبیله ده، په دې

مبارزه کښې زیاته برخه اخیستې او له نورو پښتنو ورونو سره یې د پښتون وطن دپاره کلکې مبارزې کړې دي. د دوی مېړانه په کاکړۍ غاړو کښې ستایل شوې ده. لکه د بېلګې په توګه د کاکړ خراسان کاکړ ځلمیانو چې د مېوند په تاریخي غزا کښې برخه اخیستې ده، او و قابض پېرنګي ته یې غاښ ماتوونکی ځواب ورکړې. پر پښتنه خاوره یې د دوی واکمني منلو پر ځای، دوی وژلي دي. د دې پیښې یادونه په کاکړۍ غاړو کښې داسې شوې ده:

"خان تما کاکړ ول ولاړو پر میوند به ځله غواړو
د میوند غزا له تللی زما لالی نه دی راغلی" (۳)

په دې پورته غاړو کښې د کندهار څخه ۴۶ میله لیرې د میوند د سیمې ذکر دی. په ۱۸۸۰ میلادي کال کښې د سردار محمد ایوب خان په سربراهي کښې د پښتنو او پرنګیانو تاریخي جنګ و شو. په دې جنګ کښې پرنګیانو ماته و خوړه او درنه وسله او لوی شمېر مړي یې پرېښودل.

د پښتو یوه بله نامتو قبیله "ترین" چې د سهېلي پښتونخوا په دکۍ، پښین، ګلستان او نورو سیمو کښې مېشت دي، له پېرنګیانو سره د نورو پښتنو قبیلو له غازیانو سره اوږه په اوږه د هر یرغلګر په ضد جنګېدلي دي. د دې قبیلې یو نامتو غازي فیض محمد خان ترین دی چې د پېرنګي په ضد یې وسله واله مبارزه کړې ده، شهید کړل شوی. د ده مبارزه او له مبارزې سره تړلې پیښې په کاکړۍ غاړو کښې خوندي شوي دي.

"فیض محمد ښکاره پر پشین سو د مېړهمو زړګی شین سو
"وې سځی غازي فیضو کسات یې واخلئ پښتنو" (۴)

فیض محمد ترین چې یې کله شهید کړئ، نو د پښین او شاوخوا سیمو باندې ډېر ناورین ؤ. غازي ارسلاخان چې د بوري (اوسنی لورالائی) اوسېدونکی ؤ، په قام تمانخېل (اتمانخیل) کاکړ دی د فیض محمد د کسات (بدل) یې اخیستی دی چې په غاړو کښې یادونه شوې ده.

"ارسلا غیرت پر کړی د فیضو کسات ئې کښلی"(۵)

د اذادۍ په مبارزه شهید کړل شوو مبارزینو درناوی د قام له خوا کیږي خو د دښمنانو له خوا بیا دغه شهیدانو نومونه او جسدونه له منځه وړلو هڅي هم کیږي. دغه ډول د فیض محمد غازي چې وروسته پېرنګیانو ووژلی، او وروسته یې و سېزلی. دغه عمل د سیمي پښتانه راوپارول او ارسلاخان ته دا افتخار ورپه برخه شو، ګېسفورډ یې مړ کړئ او د فیض محمد ترین غچ یې واخیستلی. موږ ووئیل چې په کاکړی غاړو کښې د دې پیښې یادونه شوې ده.

"دفیضو غازي پر سر ارسلا جنګ وکی یکړ"(۶)

په یوه بله کاکړۍ غاړه کښې لږ په بېل انداز کښې داسي کړې ده:

,,ارسلا ګېسپورټ مردار کئ نوم یې لوړ د سردار[ان] کئ

توري نه کاوه خورک ارسلا لاس کئ و چاړه ته"(۷)

و غازي ارسلا خان ته ئې دګېسفورډ د قتل په وجه پر ۱۵م مارچ۱۸۹۸مېلادي کال کښې په بوري کښې د پهانسۍ سزا ورکړه او د پېرنګي ښکېلاک ګر د خوښۍ سره سم یې ارسلاخان تمانخېل هم وسېځلی.

د پښتنو ملي مبارز، مشر غازي امیرامان الله خان دافغانستان پخوانی صدراوهغه ملي مبارز ووچې ټول پښتانه په ده ویاړکوي، د هغه ذکر په کاکړیو کي داسي شوی دی:

"خړ کالي توپک ببړیان ولاړه امیر له ملایان"(۸)

امیر امان الله ته د دې سیمي پښتنو په ډېر درانه نظر کتل. په پښتو ادب کښې، په ځانګړي توګه په سهېلي پښتونخوا کښې چې کوم ادب تخلیق شوی دی، او په اولسي ادب کښې هم ځای په ځای یادونه شوې ده. په کاکړۍ غاړو کښې د امان الله خان یادونه ډېره شوې ده،

دغه ډول د نورو غازیانو او شهېدانو په هکله په زرګونو غاړي وئیل شوي دي، خو دلته د ټولو راوړل په دې مقاله کښې نه راوړو، د بېلګي په توګه دلته څو کاکړۍ مو راوړي دي.

جانان سپرزي یو بل ِغښتلی ځوان وو چي ذکر یې په کاکړۍ غاړو کښي په دې ډول شوی دی:

" په غرو کې ږغ د پړانګ د سرو ښکار کوي جانان
نه جانان سوې نه پالې یو ځای به ناست ئې سپرې پښې
غلي سو لکه سویان د شپلۍ ږغ سو د جانان
روډ ئې کئ مورچې مورچې د جانان خوی کوي پالې"(۹)

دغه غښتلی ځوان د بوري د سیمي د تودې نومي کلي اوسېدونکی، په ختهٔ حمزه زی/ سنزرخېل/کاکړ وو. جانان د خپل عصر یو داسي قهرمان وو چي د پېرنګي په سترګو کښې سترګي اچولې. په پورتنیو غاړو کښي له جانانه سره سره د پالې خان ذکر هم شوی دی چي دی هم یو غښتلی پښتون مبارز وو. ندر خان حمزه زی یو بل پیاوړی او منلی شخصیت دی چي په ډېرو کاکړۍ غاړو کښې ستائل شوی دی. د ده د مړاني اوازې په لر او بر کښي تللي دي.

"ندر بوری ګټلی چي بای نلې تمانخېله" (۱۰)

"لاټ به نه وي په آرام په غرو کي ګرځي بلوڅ خان" (۱۱)

بلوڅ خان حمزه زی هم پیاوړی مبارز ځوان تېر شوی، چې د پېرنګي سره جنګېدلی دی. د ده کورنۍ د پېرنګي په ضد جنګېدلې ده. بلوڅ خان د وتلی مبارز او غازي ندر زوی دی. په غاړو کښې ډېر راوړل شوی دی. لکه په لاندي راوړل شوو غاړو کښې چې وئیل شوي دي:

"را وتلي دي قیدیان راځئ که ګورئ بلوڅ خان" (۱۲)

بنګل خان کاکړ هم د دې سيمي يو بل نامتو مبارز دی چې په اولس کښې مبارزې مشهوره دي. بنګل خان کاکړ په ختهٔ کاکړ جوګيزی ؤ چې په اوسني پير کښې هم د پښتنو نوابي د دې کورنۍ سره ده. بنګل خان د پېرنګي په ضد جنګېدلی. په غاړو کښې دغه نښتي او د ده مبارزه په ښه توګه انځور شوې ده. لکه:

"د بابښې د غره پر سر بنګل جنګ کاوه يکړ"(۱۳)

"پرنګيان د افغاني خاوري په جبار کلا کي له نوميالي مجاهد بنګل خان کاکړ څخه په ډار وؤ ځکه چي هغه له خپلي مبارزې څخه لاس نه واخستی. پرنګ له امير عبدالرحمان سره د ډېورنډ لاين خبري پېل کې، او پر نوموړي امير ئې فشار واچاوه چي بنګل له خپلي خاوري څخه وباسي. باران چي نواب بنګل خان ئې د تل دپاره د خلګو څخه بېل کئ خلګو په خپله فولکلوري ژبه داسي شپيانه ور و ګرځوله:

سود د کم وکئ بې زيانه بنګل تا مړ کئ بارانه
شپې به چيري تروې نواب د مړ کئ د اولکې"(۱۴)

توبه کاکړۍ د لمر خاته له خوا د قلعه سېف الله او مسلم باغ سره نښتې سيمه ده او غربي وېش يې د افغانستان تر پولې پوري دی. دا د تحصيل برښور يوه برخه ده. په دې سيمه کښې ټول ترغزي کاکړان چي درې پښې دي؛ بارګزی، احمد خېل او سلېمانخېل، په کښې اباد دي. د دې سيمي يادونه په کاکړئ غاړو کښې ډېره شوې ده. دغه ډول د دوی د ننګياليو او مبارزو غازيانو او شهېدانو يادونه هم په کاکړۍ غاړو کښې شوی دی. د پېرنګي پر ضد په وسله واله مبارزه کښې د دې سيمي يو تکړه مبارز غازي شجاع دی، چې په غاړو کښې د سجا او شجاع په نامه راوړل شوی دی،يو ځای يې داسي يادونه شوې ده.

"پر دره ګورکيانو تېر کی شجاع هم پښتنو هېر کی

ځي ښکاره سو پر میدان پـه غرو کښي پټ سولو

ګورکیان

د احمد د سر سایه سرو پرنګیانو کئ یره"

(۱۵)

پرنګیانو چې د دې سیمي د غازیانو او مبارزینو سره د دوی په مړینه کوم غیر انساني او غیراخلاقي رویه خپله کړې وه، هغه هم د دې سیمه په نور اولس کښې د ویري خوروني دپاره کول. دوی به د شهېدانو جسدونه سوځول او د مړي بې حرمتي به یې کوله خو متاسفانه د هغه دور د پېرنګیانو د غلامانو چې دوی به ورته ملک او خان وئیل، هیڅ رد عمل نه کول د غلامۍ بدترینه نمونه ګڼلای شو. له یوې خوا پر وطن او خاوره میئن غازي خپل سر ږدي او د وطن، دین او روایاتو له پاره تر سر تېرېږي، او هر څه له لاسه ورکولو پرواه نه کوي، خو د دوی پر سر بیا جاسوسان، د وطن غداران د دوی پر سر پیسې او مراعات اخلي. خو په تاریخ کښې یوائې د هغو ځوانانو او مبارزینو نومونه خوندي کیږي چا چې په اخلاص د خپل دین او ملت دپاره سر ښندلی وي.

د انګرېزانو داستعماري دورې یو توریالی د بوري ساوڼ مسه خېل (موسی خېل) دی. دی هم په ډیرو کاکړې غاړو کښې ستائل شوی دی.په موسی خېلانو کښې ډېرو مبارزینو خپلې وینې توکړې دي او سرونه یې ښندلي دي. د پېرنګي د سامراجي دورې تر پایه دوی جنګېدلي دي. دا سیمه د سوهېلي پښتونخوا هغه سیمه ده چې د پنجاب سره نزدې پرته ده. د کاکړې غاړو د پراخوالي او په اولس کښې د دې د مقبولیت اندازه له دې کولای شو چې د سوهېلي پښتونخوا تاریخ یې پر لویه کچه خوندي کړئ دی. په زیاته د دې سیمي ټولي مبارزې او په دې کښې برخه اخیستونکي مبارزینو انځورګري په ډېره ښه توګه کړې ده. خو دلته چې دکوم مبارز "ساوڼ موسی خېل" یادونه وشوه، دغه پېښه په بوري کښې شوې ده چې اوسنی نوم یې لورالائی دی. دا سیمه د ږوب او قلعه سیف الله سره نښتې سیمه ده. په کاکړې غاړو کښې د دې ښاغلي نوم داسي راوړل شوئ دی:

دا یو څو غاړي هم ده ته منسوب دي:

"حال مه یوسه تا پرېږدم سپېټه ساوڼ مسه خپل یم
تحصیل بند دروازې پوري نن ساوڼ مسه خپل ښوري
نه اسمان ښوري نه غرونه د ساوڼ ترې لاسونه" (۱۶)

د دې مبارزینو کمال دا ؤ چې دوی د خپل وطن د ساتلو او د سامراج له منګولو څخه خلاصولو داسي هوډ کړئ ؤ، چې په هیڅ څه یې پرېښولو ته نه چمتو کېدل. د دوی د دوامدار مبارزې له سوبه پېرنګۍ مجبوره کړل شوی، سرې لښکري یې له دې خاوري ایستلي دي. په دې لړۍ کښې یو بل مبارز باز جوګیزی هم دی. جوګیزی چې د کاکړاو په کاکړ کښې د سنځرخېل او په سنځرخېل کښې جلال زي دي، په اوسني پېر کښې هم د پښتنو نوابي د دوی په ټبر کښې ده او نواب ایاز خان جوګیزی د ټولو پښتنو منل شوی نواب دی. په دې ټبر کښې باز جوګیزی کلک مبارز تېر شوی چې نامتو فولکلورسټ سید خیر محمد عارف یې داسي یادونه کړې ده:

"د ده په باره کښې روایت دی چې له جېله ئې د ځان د خلاصولو په وخت پر دوو ګورکیانو ډزي اوکړې. او پر خپل اس راسپور شو د خپل کلي پر خوا ئې مخه را اوکړه، د شا له خوا د فوج درسته رساله ورپسې شوه او باز ئې له خپله کوره سره نزدې د مئ ۱۹۱۹ ء پر شپږویشتمه نېټه شهید کړو، قبر ئې د خسنوب په هدیره کښې دی.

باز د نه یووړی تر ځایه پښې د ماتي سه چارپایه
باز ئې مړ کئ جنو کښېنه توپک راوړه دروازې له
باز ئې مړ کئ سرې غرمې دي پر ږوب پنډې رسالې دي
(۱۷)"

شېرک يو بل کاکړ مزاحمت کار وو ، دا يو څو غاړي پر دې غښتلي ځوان جوړي شوي دي:

"يو شېرک بل شېرعلي          په باز سردار ولي ګورکي
پر شرح د نبي          شېرک سردار وزني
ګورکي"(۱۸)

د پېرنګي له خوا د غازيانو د نيولو وروسته په بېلابېلو داسي دردناکه او له وحشته ډکو طريقو وژل چې پاته اولس د دوی پر ضد راپورته کېدو سوچ هم نه وکړي. د دوی د وژلو يوه طريقه پانسۍ هم وه چې تر اوسني پېر پوري دوام لري، او انسانانو ته د سزا ورکولو يوه عمومي طريقه ده.

د پانسۍ ورکولو په ورځ ټول اولس په دې خبرول کېدلی چې فلانکی غازي ، د پېرنګيانو په اصطلاح غدار، به په فلاني وخت کښې په دار ځړول کيږي. کومو غازيانو چې په اخلاص د خپل وطن مبارزه کوله، د دوی دپاره له جنګ او مړيني څخه د پر شا کېدو يا پر خپل جائز کار پښېماني ښکاره کول په سيمه کښې له رواياتو سرغړونه او پېغور ؤ. ديني روايات او احکام هم دغه دي چې کله له دښمن سره په جنګ ياست، په جنګ کښې به و دوی ته شا نه ښکاره کوی. له جنګ څخه به تېښته نه کوی.

کوم غازيان چې به و پانسۍ ته راوړل کېدل، هغه به د پانسۍ ځای ته په خوشحالي راتلل او د پانسۍ ورکول کېدلو په وخت به يې هيڅ ويره نه ښکاره کوله بلکې په جار به يې د پانسۍ لوازمات پوره کړل. خو په دې کښې ځيني غازيان او مبارزين داسي هم تېر شوي چې هغوی د پانسۍ کېدو پر وخت داسي عمل کړئ دی چې د اولس له خوا داد ورکول شوی دی. اولس د دوی دغه ډول عمل ته په درنه سترګه کتلي دي. په دوی کښې تر ټولو مشهوره د شېرجان په هکله جوړي شوي غاړي ډېرې مشهوري دي او کله چې يې دی و دار ته ځځولی، ده سګرېټ لګولی دی. دا کاکړی د ټول اولس له خولې نن هم اوربدل کيږي چې و پانسۍ تې خزاوی – شېرجان سګرېټ و لګاوی.

دغه ډول د ګولي موسی خېل په هکله هم یوه کړه غاړه مشهور ده :

"په پانسۍ ئې ځراوئ ګولی لیا سخت کوي
ګایونه"(۱۹)

لکه څنګه چي شاه ځلمیان دخپل وطن د پاره د پېرنګي سره جنګېدلي دي ، دغه رنګه یو شمېر پېغلو هم د استعمارګرو پر ضد مبارزې کړي دي. په تاریخ کښې د ډېرو پښتنو خویندو نومونه خوندي دي چې د خپل اولس دپاره یې له وروڼو سره اوږه په اوږه اولسي مبارزه توده ساتلې ده. له خپلو غازیانو وروڼو سره یې په لویو جنګونو کښې برخه اخیستې ده. د پښتنو په دغه ښځینه مبارزو زنانو کښې ځیني په تاریخ کښې داسي ځلېدلي دي چې نوم یې پر ټوله نړۍ خور شوی دی. لکه د میوند ملالۍ چې د پښتنو ماته یې په ګټه کښې اړولې ده او و دښمن ته یې غاښ ماتوونکی ځواب ورکړئ دی. د ملالۍ دغه کردار نن هم په پښتو شاعري کښې پر لویه پېمان کارول کیږي.

د ملالي مېوندی په څېر په سوهېلي پښتونخوا کښې یوه پښتنه پېغله بخت نامه کاکړه، د پېرنګي په ضد راپورته شوې ده، پېرنګی یې ویشتلی دی او نور یې تېپیان کړي دي.

بخت نامه ښځه وه ځکه یې په اولسي ادب کښې ډېره نوم خور شو. په ځانګړي توګه په کاکړۍ غاړو کښې ړوړ جوړ کړئ.

"ووته تر ګرد سنځر بخت نامې وویست
کمپوډر"(۲۰)

په اصل کښې د بخت نامې سړی د پېرنګیانو له خوا د مچ په جېل کښې بندي ؤ، او دې د هغه ځای د پېرنګي و واکدارانو ته درخواستونه ورکړي ؤ خو هغوی رد کړي ؤ. دغه او له دې پرته نور معلومات بېلابیلو لیکوالانو راوړي دي، په دې اړه خیر محمد عارف دا پېښه داسي لیکي:

,,بخت نامې جهازۍARMA توپنچه پخپل پراخ پښتني لوستنې کښې پټه راخيستې وه چې په يوه غاړه کښې ذکر داسې خوندي دی:

جهازۍ توپنچې وړې ترمړو زياتي بختنامې

بخت نامه له هسپتال څخه پټه اووته، سرکټ هاوس ته ورغله، په سرکټ هاوس کښې هغه حاکم هم وؤ، چا چې د بخت نامې جائز درخواست په حقارت سره ټکراؤ کړی وو...هغه توپنچه يې را و ايسته، پر انګرېز او سک باندې ئې ټکان اوکړل...

سور د مړ کئ سيک زخمي بخت نامې ځان د کئ غازي

ښه ده دا تر اوس مړونه بخت نامې سره کړه لاسونه

کله چې دغه پېښه و شوه نو بخت نامه سم له لاسه ګرفتاره کړې شوه، هتکړۍ ورولګېدې.

قام د پرې سې پر نيمې چې بخت نامه هتکړي وړې

د يو څه وخت تحقيق کولو پس بخت نامې ته د دغه تور په اړه سرکار جبل با مشقت ور کړ ،او مچ ته د وړلو حکم صادر شو.

"قام د پرې سې پر نيمې بخت نامه مچ له وړي پېکي"(۲۱)

د بخت نامې په هکله يوه بله غاړه ده:

"نېک بې کو پيسه پيسه مچ له د نه وړي بختنامه" (۲۲)

شېرجان يو داسي نوم دی چي اکثره پښتانه يې پېژني.ده يو پېرنګۍ پوليټکل ايجنټ مړ کړ.په پښتنو غازيانو او شهيدانو کښې تر ټولو زيات شهرت د شېرجان جوګيزي په برخه دی او په بېخي ډېرو کاکړيو کښې ستائل شوی دی. د بېلګې په توګه دا يوه کاکړۍ ده:

"ميمي بنده که کړکی        شېرجان ترې ولي ګولی"(۲۳)

پښتنو ته چي څومره تاوانونه بل رسولي دي دغومره د خپلو د لاسه ور رسېدلي دي.

"د جرګې يو ممبر ........ شېر جان قابو کړ. په دا وخت نور نوکران هم باندي را ټول شو، شېر جان ئې ګرفتار کړو،(....) انګرېزانو د انعام و اکرام دروازې ورباندې خلاصي کړې او دا پېغور ئې ورته د تل د پاره جوړ کړو:

تر دا سل روپۍ انعام        تاله تربور بهه وؤ شېرجان" (۲۴)

په دې غاړه کښې ترلې و تربور ته ده پېغور ورکړی دی چي د ۱۰۰۰ روپۍ تر انعام ستا دپاره شېرجان رنګه تربور ډېر ښه وو. ته څنګه پښتون يې چي د زر روپۍ د پاره دي خپل تربور په لاس ورکړی.دشېرجان د پهانسۍ ذکر په دې غاړه کښې شوی دی:

"څې شېرجان پهانسۍ کاوئ        آغا کومک به د کاوئ" (۲۵)

په بېلابېلو غاړو کښې شېرجان داسي ستائل شوی دی:

"صد رحمت ئې پر ايمان        فرنګۍ کونډه کړه شېرجان

د جنت ګلان مينده کې        تا په بان۱ غرغړې وکې

د شېرجان د پهانسۍ ناره        خواره سوې زرغونې۲

زاړه

ستا پهانسۍ پر مچ ولاړه                    خور د لیار ګوري
شېرجانه

شېرجان مړ شېرعلي ۳ ورک          و ماته بد اېسي رودک" (۲۶)

سنتیا د کاکړو یوه بله لویه پښته ده چې د مسلم باغ څخه د کوټې په خوا تر کچلاغ، کوټې او له دې سره نیزدو سیمو کښې اباد دي. د کاکړو په دغه ښاخ کښې ډېر داسي ځوانان تېر شوي دي چې له پېرنګي سره ډېر کلک جنګېدلي دي. د پېرنګي و لښکرونه ته یې ډېر زیانونه اړولي دي

په دوئ کښې یو نوم د غازي ژړک دی چې شپږ سکهان سپاهیان او یو انګرېز انجنئیریې قتل کړو. دا یو څو غاړي و شېخ ژړک ته منسوبه دي:

"د ژړک له بد بیې                    ماځیګر کولپ سوې دروازې

د ژړک زائیپې کښېنه                    ملخی دروړه دروازې له

د توپکو ړغ له شپې                    په غدۍ سپین ژړک خان کښې"
(۲۷)

ژړک په اصل کښې د تحصیل کاربزات د چرمیانو د کلي وو خو د فراریتوب ژوند یې په بوري کښې تېر کړی دی. د شېخ ژړک په باب یو څو نوري مشهوره غاړي دلته راوړو:

,,پرنګیان یې دلته ګوري          ژړک سوی د آسمان ستوري" (۲۸)

,, سورئېپ کی په مرګ اوبه          ولاړی ژړک په څمازه" (۲۹)

په دې مبارزینو کښې یو نوم د پالې شاه خوستي دی چې په قام سید وو. پالې شاه خوستی د سهېلي پښتونخوا هغه مبارز دی چې د پېرنګیانو پر ضد ئې ډېري مبارزې کړي دي.دلته زه یو لاړ داسي غاړي راوړم چې د پالې شاه ستاینه په کښې شوې وي:

"کټا پړانګ پالې زمری پاس پر دېوال ولي
ګورکی

تورپټکی کټا په کښې د غزا ږغ دی د پالې

ځله تښتي ملېشې د بم ګولۍ ولي پالې"(۳۰)

پائیله:

په تیرو کرښو کښې یادونه شوې ده چې سوهېلي پښتونخوا د لویې پښتونخوا یو مرکز ګڼل کیږي. دا سیمه د برصغیر تر وېش پوري د پېرنګي تر تسلط لاندي وه. پېرنګیانو چې پر دې سیمه څومره واکداري کړې ده، په دې دوره کښې د خپلو ګټو ترلاسه کولو پرته محکوم پښتون اولس تر غلامۍ لاندي ساتلو له پاره ډېره ناوړه ګامونه پورته کړي دي. د دوی دغه تاریخي جبر د تاریخ په پاڼو کښې خوندي دی.

د پښتنو جغرافیائي موقعیت ډېر د ارزښت وړ دی، ځکه نړیوال قوتونه یې له پېړیو پېړیو کرارۍ ته نه پرېږدي. تر څو چې د پېرنګیانو د دورې اړه ده ، پېرنګیانو د دې سیمې ډیري شتمنۍ له منځه وړلو پرته د دې سیمي غازیان، عالمان ، او پوهان زورولي او وژلي دي. په بېلابېلو ډولونو یې د دوی سپکاوی هم کړئ دی.

کاکړۍ غاړي د سوهېلي پښتونخوا هغه ژانر دی چې د پېرنګیانو زورواکي او ناورین یې خوندي کړی دی. په کاکړۍ غاړو کښې د هغو ټولو ننګیالیو ، غازیانو او شهېدانو یادونه شوې ده، چا چې خپل سرونه پر خپل وطن بایللي دي. له پېرنګیانو څخه یې د خپل وطن د خلاصولو هڅې کړي دي.

په غاړو کښې د دې غازیانو او شهېدانو انځور وړاندي شوی او د دوی د ژوند له نیولو تر وژلو، هره لحظه یې ډېر په ښکلي انداز خوندي کړې ده. هغه که د شېرجان پانسۍ ته خېژولو دردناکې

لحظې وي او که د بخت نامې کاکړې د مچ د جبل حالات دي، دا ټول په کاکړۍ غاړو کښې خوندي شوي. خو په دې مقاله کښې يې يو اځې ځو نمونې ورکړل شوي دي.

د پېرنګي سامراج په ضد د دې غازيانو مبارزه د دوی تر اخرنۍ ورځې پورې شوې ده خو د خپلو د بيورو او له دښمن سره مرستې په سوب يې د دوی و مبارزه ته زښت زيات زيان اړولی ۀ. زموږ د اوسني پېر ليکوال ډاکټر محمد صادق ژړک په خپل کتاب کاکړۍ غاړو کښې يوه غاړه داسې راوړې ده:

سره په زور زورور نه وو خو په ځنګ کې پښتانه وو (۳۱)

## حوالہ جات(References)


1. کاکړ، سیال ،کاکړی،پښتوادبي دنیاکوټه،اسلامیه پریس کوټه، ۱۹۷۳ءمخ:۱۱
2. ژړک،محمد صادق، کاکړی غاړي، پښتو ادبي غورځنګ، کوټه، اشاعت ندارد، مخ ۳۰۳
3. ایضاً ،مخ:۶۶
4. ایضاً، مخ:۸۱۱
5. ایضاً، مخ:۵۰۶
6. ایضاً، مخ:۲۸۱
7. کاکړ ،سیال ،پښتو او پښتانه په سهېلي پښتونخواکي،اسلامیه پریس کوټه،دسمبر۱۹۷۶ ء،مخ:۲۲۷
8. کاکړ، سیال ،کاکړیمخ:۴۰
9. ایضاً، مخ:۴۱، ۴۲
10. کاکړ، سیال ،پښتو او پښتانه په سهېلي پښتونخواکي،مخ:۲۷۲
11. ایضاً،مخ:۲۲۸تا۲۳۰
12. ایضاً،مخ:۲۳۰
13. ایضاً ،مخ:۱۸۸
14. ایضاً مخ:۱۹۱تا۱۹۹
15. ژړک،کاکړی غاړي،مخ:۸۱۰
16. کاکړ، سیال ،کاکړی،مخ:۴۲
17. عارف،سیدخیرمحمد ،زموږ غازیان او شهیدان،(۲۰۰۰)،مخ:۲۱۰
18. کاکړ، سیال ،کاکړی،مخ:۴۴
19. کاکړ، سیال ،پښتواوپښتانه په سهېلي پښتونخواکي،مخ:۲۰۳ تا۲۰۵
20. ایضاً مخ:۲۵۵
21. عارف،خیرمحمد ،زموږ غازیان او شهیدان،مخ:۱۹۲، ۱۹۳
22. ایضاً ،مخ:۱۹۳، ۱۹۴
23. ژړک،کاکړی غاړي،مخ:۶۹
24. عارف،خیرمحمد ،زموږ غازیان او شهیدان،مخ:۲۲۸، ۲۲۹

25. ژړک، کاکړی غاړي، مخ:۵۰۷
26. عارف، خیرمحمد ،زموږ غازیان او شهیدان، مخ:۲۲۹، ۲۳۰
27. ژړک، کاکړی غاړي، مخ:۲۷۹
28. ایضاً، مخ:۶۹
29. ایضاً، مخ:۳۴۸
30. عارف، خیرمحمد ،زموږ غازیان او شهیدان، مخ:۱۹۸ تا ۲۰۳
31. ژړک، کاکړی غاړي، مخ: ۳۶۸